آصف بهاند ٢٠١٧/٠٥/١٣

# زما د عمر دیوال،

## د انتظار ښورې چنګ کړی دی نور

زما غوږونه

دا څو ساته،

دا څو ورځې،

دا څو کاله،

یو لوی عمر،

د کوم یو څه د اوریدو په هیله

نور د کونتیا سیمې ته ننوتل

زما دوې سترګې

دا څو ساته،

دا څو ورځې،

دا څو کاله

یو لوی عمر،

ستا د راتګ دا اوږدې لارې څارې

ما څه وا نه وریدل او و نه لیدل

پل دې مالوم نه شولو

ما مې د ژوند خزانه

او د خپل عمر زرین توکې

ستا د راتلو لار کې فرش کړې وو خو،

غږ دې را نغی سولې

د پل ښکالو دې نآورم

او که مې غږ در رسې،

ښه یې واوره:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**زما د عمر دیوال**

**د انتظار ښورۍ چنګ کړی دی نور**

۲۰۱۷/۰۴/۲۴،

هیدرسلیف،

ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ